University of Vermont Health

Central Vermont Medical Center

## وړیا پاملرنه

**تاسو کولای شئ وړیا پاملرنه (تادیه$0) ترلاسه کړئ، که چیرې ستاسو د کورنۍ عاید د فدرالي بې وزلۍ کچې (FPL) له 250% څخه کم وي.** په 2026 کې، ستاسو عاید باید له دې څخه کم وي:

| د کورنۍ اندازه | اعظمي عاید |
|---|---|
| 1 کس | $39,900 |
| 2 کسان | $54,100 |
| 3 کسان | $68,300 |
| 4 کسان | $82,500 |
| 5 کسان | $96,700 |
| 6 کسان | $110,900 |
| 7 کسان | $125,100 |
| 8 کسان | $139,300 |

## د ټیټ لګښت پاملرنه

**که چیرې ستاسو د کورنۍ عاید د فدرالي بې وزلۍ کچې (FPL) له 400% څخه کم وي، کیدای شي تاسو د 76% تخفیف لپاره وړ یاست.** په 2026 کې، ستاسو عاید باید له دې څخه کم وي:

| د کورنۍ اندازه | اعظمي عاید |
|---|---|
| 1 کس | $63,840 |
| 2 کسان | $86,560 |
| 3 کسان | $109,280 |
| 4 کسان | $132,000 |
| 5 کسان | $154,720 |
| 6 کسان | $177,440 |
| 7 کسان | $200,160 |
| 8 کسان | $222,880 |

## د ناورین په حالت کې پاملرنه

که چیرې تاسو روغتون ته ډیرې پیسې ورکوئ، مګر ستاسو عاید ډیر لوړ وي نو د وړیا یا ټیټ لګښت پاملرنې لپاره وړ نه یاست، نو د ناورین (جدي ټپي یا ناروغ) پاملرنې په اړه له موږ څخه پوښتنه وکړئ. دا ډول مرستې د هغو ناروغانو لپاره شته دي چې بیلانس یې د هغوی د کلني کورني عاید له 20% څخه ډیر وي. **موږ کولای شو له تاسو سره مرسته وکړو چې دا معلومه کړو چې تاسو وړ یاست.**

## د پالیسۍ لنډیز

**د روغتیایي پاملرنې لپاره تادیه کولو کې مرسته ترلاسه کړئ.**

موږ د مالي مرستې پروګرام لرو تر څو له تاسو سره مرسته وکړي تر څو هغه پاملرنه ترلاسه کړئ چې تاسو ورته اړتیا لرئ.

**د مالي مرستې پروګرام څه شی دی؟**

موږ هغو خلکو ته مالي مرسته وړاندې کوو چې بیمه نه لري. موږ هغو خلکو ته هم د مرستې وړاندیز کوو چې د جیب څخه بهر لګښتونو سره بیمه لري چې هغوی یې توان نه لري. دا د دوامداره پاملرنې او بیړنیو حالتونو لپاره کارول کیدلای شي. پاملرنه باید په طبي لحاظ ستاسو د روغتیا لپاره اړینه وي تر څو د مرستې لپاره تایید شي.

**څوک کولی شي مالي مرسته ترلاسه کړي؟**

د وړ کیدو لپاره:

- وړ کېدل په عاید او شتمنیو پورې اړه لري، د اړینو سندونو لپاره غوښتنلیک وګورئ.
- تاسو باید د "Vermont اوسیدونکي" اوسئ - په دې کې زده کوونکي، هغه خلک چې په Vermont کې کار کوي، بې اسنادو کډوال، هغه خلک چې په Vermont کې ژوند کوي مګر ثابت کور نلري شامل دي، پدې کې لیدونکي یا مسافر شامل نه دي پرته لدې چې پاملرنه بیړنۍ وي.
- **ستاسو عاید باید له حد څخه لږ وي.** د وړیا او ټیټ لګښت پاملرنې لپاره د عاید بېلابېل محدودیتونه شته دي. چارټونه وګورئ.
- **ستاسو "مایع" سرچینې باید له حد څخه کمې وي.** دا د نغدو پیسو، جاري او سپما حسابونه او داسې نور دي. (ستاسو اصلي کور، موټر او د تقاعد حسابونه به ستاسو په مقابل کې حساب نه شي.)

## د عاید حدود

د خپلې کورنۍ اندازه او عاید په لاندې چارټونو کې ومومئ. د ډیری خلکو لپاره، ستاسو د کورنۍ اندازه به هغه خلک وي چې ستاسو په مالیاتو کې ذکر شوي دي. تاسو د وړیا پاملرنې لپاره ډیرې پیسې وګټئ، کیدای شي تاسو د ټیټ لګښت پاملرنې لپاره وړ یاست.

*نور معلومات په وروستنه برخه کې ومومئ*

**وروسته څه کیږي؟**

تاسو به په راتلونکو 30 ورځو کې زموږ له خوا یو لیک ترلاسه کړئ. دا به ووایي چې آیا تاسو تایید شوي یاست، رد شوي یاست یا اړتیا لرئ چې نور معلومات واستوئ.

که چیرې ستاسو غوښتنلیک رد شي، تاسو کولی شئ د پریکړې په وړاندې د استیناف غوښتنه وکړئ. د استیناف غوښتنه باید د رد شوي غوښتنې څخه د 60 ورځو په اوږدو کې د ناروغ مالي مرستې متخصص ته په لیکلي توګه واستول شي او د استیناف دلیل پکې ذکر شي.

## څنګه د غوښتنلیک فورمې ترلاسه کړئ

- **زموږ د مالي سلا مشورې دفتر څخه لیدنه وکړئ:** 3 Home Farmway, Montpelier VT 05602
- **زنګ ووهئ:** 8000-847 (802)

## په وړیا ډول د ژبې ملاتړ

موږ هغو کسانو ته د وړیا مرستې وړاندیز کوو چې د اړیکو یا ژبې اړتیاوې لري. موږ کولی شو هغو کسانو سره چې دې معلوماتو ته اړتیا لري په بیلابیلو لارو مرسته وکړو. د شفاهي ژباړونکو او ژباړې ملاتړ لپاره له 8899-847-802 شمېرې سره اړیکه ونیسئ.

## لا زیات معلومات

**څوک مالي مرسته مني؟**

ټول چمتو کوونکي زموږ د مالي مرستې پالیسۍ تر پوښښ لاندې نه دي. زموږ لیست دلته وګورئ: [مالي مرسته Financial) Assistance (cvmc.org)]. تاسو کولی شئ د خپل ډاکټر په اړه هم زموږ څخه پوښتنه وکړئ.

**بشپړه پالیسي ولولئ**

دا په ساده ژبه زموږ د مالي مرستې پالیسۍ لنډیز دی. زموږ بشپړه پالیسي دلته ده: [مالي مرسته Financial Assistance ) (cvmc.org)].

## توپیري چلند نه ترسره کول

موږ د نژاد، رنګ، جنسیت، جنسي تمایل، جنسیتي هویت، مدني حالت، مذهب، نسب، ملي اصل، تابعیت، د کډوالۍ حالت، اصلي ژبې، معلولیت، طبي حالت یا جنیتیکي معلوماتو پر بنسټ توپیري چلند نه ترسره کوو.

## تر پوښښ لاندې نیول شوي خدمتونه

- بیړني طبي خدمتونه د بیړنۍ خونې په چاپیریال کې چمتو شوي دي،
- د هغه حالت لپاره بیړني خدمتونه چې که په چټکۍ سره درملنه ونشي، د یوه کس په روغتیایي حالت کې د زیان رسونکي بدلون سبب کیدلای شي،
- انتخابي اړین طبي خدمتونه

## خدمتونه تر پوښښ لاندې نه دي نیول شوي

- د سینګار/پلاستیکي خدمتونه
- عقامت/د اولاد د زیږېدو خدمتونه
- غیر طبي اړینه پاملرنه
- څېړنه / تجربوي خدمتونه
- د ناروغ نړیوالې پاملرنې د لیدونکو په توګه تعریف شوي نه د اوسیدونکو په توګه، پرته له دې چې خدمت د بیړنۍ خونې په چاپیریال کې چمتو نشي
- د Apple Tree Bay کې وړاندې شوي خدمتونه

## څنګه غوښتنه وکړئ

تاسو کولی شئ د طبي خدمتونو ترلاسه کولو دمخه یا وروسته غوښتنه وکړئ.

**دا مرحلې په پام کې ونیسئ:**

1. **یو وړیا اپلیکیشن ترلاسه کړئ.**
   - په حضوري ډول: نوملیکنه
   - آنلاین: [مالي مرسته (uvmhealth.org)]
   - ټیلیفون: زنګ ووهئ 8000-847 (802)
2. **غوښتنلیک ډک کړئ.** هیڅ برخه خالي مه پرېږدئ. لکه څنګه چې په غوښتنلیک کې یادونه شوې، ملاتړي اسناد پکې شامل کړئ.
3. **خپل بشپړ شوی غوښتنلیک موږ ته راکړئ یا یې را ولیږئ.**
   - لاندې پتې ته یې واستوئ: CVMC Registration Financial Services, 3 Home Farmway, یا Montpelier VT 05602
   - د پوسټ له لارې یې واستوئ:

     University of Vermont Health Network
     Financial Assistance Program
     Patient Access Department IDX 22052
     111 Colchester Avenue
     Burlington, VT 05401